مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۰/۰۸/۱۵

# تشویش

خدایه! ته ئې رشتیا مه کړې، زما تشویش زما اندېښنې
په دې سوله کې زه وینم، د بل جنګ بلې لمبې

سوله خیر دئ جګړه شر دئ، زموږ په دین و په آئین کې
دا مطلب د کاڼي کرښه، دئ روښان تر آئینې

خو صفا د باطن شرط ده، چې رښتینې سوله راسي
مداری د سیاست بیا، ادامه ده د جګړې

زه دارېږم له چل وله، زه بېرېږم له فریبه
واهمې راسره مل دي، سوځېدلی له فتنې

د اغیار له خیرن مخه، راښکاره دا حقیقت دئ
په خوله خوږ په زړه کې تریخ دئ، ثابت کړی زمانې

په جوله و په جلوه ئې، چې خطا نه سې اولسه
دا په ختېه مردار خور دئ، د کرګس له آشیانې

په خوله سوله ـ سوله وایي، خو و جنګ ته تیاري کړي
د باطن خیره ئې ښکاري، له عمل او له کِردې

مار چیچلي یم بېرېږم، له هر پړي له هر مړي
خدای دي نه کا چې تکرار سي، زموږ د تېر ژوند تجربې

آشاوا, کانادا

15مه د اګست 2020ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ